مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ډاکټر لودویگ آدمک
ترجمه: رحمت آریا

۲۰۲۶/۰۷/۰۵

# د افغانستان بایوګرافیکي قاموس
## دوهم ټوک
### (یو سل او یومه برخه)

**شمس الدين صديق**

په ۱۹۴۲ز کال کې په هرات کې زېږېدلی دئ. له حربي پوهنتون او د کابل پوهنتون د ادبیاتو له پوهنځي څخه فارغ سوی دئ. همداشان له ۱۹۷۰ تر ۱۹۷۷ز کال پورې ئې په مشهد کې تحصیل کړی دئ. په کابل کې د مطبوعاتو او نشراتو ددولتي کمېټې کارمند. ژورنالیست. د لنډو داستانونو لیکوال.

**مير محمد شاه صديقيان**

په ۱۹۰۲ز کال کې په کابل کې زېږېدلی دئ. په ۱۹۲۰ز کال کې له پوځي اکاډیمۍ څخه فارغ سوی او د تورن رتبې ته ئې ارتقاء وکړه. په ۱۹۲۱ز کال کې ډګرمن سو. په ۱۹۲۴ز کال کې ډګروال په بست کې ئې د کابل د پولیسو مشر سو. د پکتیا د ګوډ ملا د بغاوت پر وړاندې ئې جګړه وکړه او د کابل د دویمي فرقې بولندوی سو. په ۱۹۲۹ز کال کې ئې د ډګروالی رتبې ارتقاء وکړه او د جلبیانو د راټولولو په مسؤولیت وګومارل سو. په ۱۹۲۹ز کال کې د قوای مرکز درستیزوال. په ۱۹۳۳ز کال کې د سیاسي ملحوظاتو له کبله له پوځي دندې څخه په تعلیق کې راوستل سو. د کورنۍ یو شمېر غړي ئې د «سرای موتي» [1] په زندان کې وساتل سول او وروسته نورو ولایاتو ته تبعید سول. ماشومانو ته ئې د ښو کالو لپاره اجازه ورنـهٔ کړل سوه چي په افغان ښوونځیو کې شامل سي، نو ځکه دهٔ په خپله ورته په کور کې تدریس وکړ. په ۱۹۴۳ز کال کې یو ځل بیا ورته اجازه ورکړل سوه چي پوځ کې ومنل سي او د ډګروال په رتبې په نهرین کې د شلمي فرقې د محکمې د رئیس په توګه وګومارل سو. په ۱۹۴۴ز کال کې متقاعد سو. په ۱۹۴۷ز کال کې د صدارت عظمی د اداري محکمې رئیس، او په ۱۹۴۸ز کال کې د استیناف د محکمې رئیس. په ۱۹۵۳ز کال کې د اسنادو او مهرونو د چاپ رئیس. په ۱۹۵۷ز کال کې د مسکوکاتو د ضرب وهلو د ضرابی رئیس. په ۱۹۵۹ز کال کې یو ځل بیا متقاعد سو. په ۱۹۶۴ز کال کې د لویې جرګې غړی. د مشرانو په جرګې کې د انتصابي سناتور په توګه وګومارل سو. څلور لوڼې ئې درلودلې : شیرین ارسلا، زرین نوري، سیمین عسکراو پلاتین حنیفي؛ او څلور ئې زامن ول : سید محمد

[1] - دغهٔ سرای د کابل د شور بازار د پنډتانو د ګذر په خولـهٔ کې موقعیت درلود. دا سرای د موتي سینګهـ ملکیت وو چې د سردار محمد هاشم خان پر مهال د زندانیانو د شمېر د ډېرېډلو له کبله حکومت دا سرای له موتي سینګهـ څخه واخیست او په زندان ئې بدل کړ. دا یو دري پوړیزه سرای وو چې کوچنۍ کوچنۍ کوټې ئې درلودې او د مجردانو او مسافرانو د خوب لپاره وې. د هغهٔ مهال حکومت دا ځای یو زندان جوړ کړ چې وروسته د «نظارت خانه کهنه» په نوم یادېدله. – ژ


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راليږلو مخکې په ځیر و لولـئ

زبیر، سید فرید، سید اسلام او میر ویس. په ۱۹۷۰ز کال کې د فرانسې په لیون کې ئـې وفات وکړ او په کابل کې خاورو ته وسپارل سو.

## سید مـحـمـد زبیر صدیقیان

د میر محـمـد شاه زوی په ۱۹۲۸ز کال کې په کابل کې زېږېدلی دئ. په ۱۹۴۸ز کال کې د نجات له لیسې څخه فارغ سو، او په ملي بانک کې کار په زده کړو وګومارل سو. سویټزرلند ته لاړ او هلته ئـې په ۱۹۵۴ز کال کې د برن له پوهنتون څخه په اقتصاد کې د فراغت سند تر لاسه کړ. په ۱۹۵۲ او له ۱۹۵۴تر ۱۹۵۵ز کال پورې د „شوایزر کریدت آنستالت" [2] او „نارد دوشي" [3] بانک کې ئـې عملي کار زده کړ. په ۱۹۵۶ز کال کې په کابل کې د ملي بانک کارمند سو او تر ۱۹۶۵ز کال پورې د ملي بانک د هامبورګ د څانګې مأمور وو. د افغانستان د سوداګریزو چارو په وزارت کې د صادراتو د پرمختیا او ترویج عمومي مدیر. له ۱۹۷۱ تر ۱۹۷۳ز کال پورې د افغان فرنیچر او ترکانۍ د کمپنۍ رئـیس. له ۱۹۷۳ تر ۱۹۷۴ز کال پورې د کانونو او صنایعو په وزارت کې د صنایعو د ریاست مرستیال رئـیس. له ۱۹۷۴ تر ۱۹۸۳ز کال پورې د جهان ترکانۍ/ نجارۍ بنسټ ایښودونکی او څښتن. په ۱۹۸۳ز کال کې له افغانستانه وتښتـېـد او جرمني ته لاړ.

## مـحـمـد عثمان صدقي [4]

د سید حبیب زوی په ۱۹۱۴ز کال کې په کابل کې زېږېدلی دئ. په ۱۹۳۴ز کال کې د حـبـیـبـیې له لیسې څخه فارغ او په ۱۹۴۱ز کال کې د کابل پوهنتون د حقوقو او سیاسي علومو له پوهنځي څخه فارغ سوی دئ. د نیویورک له پوهنتون څخه ئـې خپله ماستري په نړۍ والو اړیکو کې ترلاسه کړه. د معارف د وزارت د تألیف د ریاست غړی. له ۱۹۳۸ تر ۱۹۴۲ز کال پورې د کابل راډیو د نشراتو مدیر. له ۱۹۴۲ تر ۱۹۴۶ز کال پورې د انیس سرمحرر. له ۱۹۴۶ تر ۱۹۵۷ز کال پورې په نیویورک کې د ملګرو ملتونو د معلوماتو د مرکز غړی. په کابل کې د ملګرو ملتونو د معلوماتو مشر افسر. له ۱۹۶۱ تر ۱۹۶۳ز کال پورې په „نیو ګیني" [5] کې د معلوماتو مدیر. د ادبي او تأریخي ټولنې غړی. په ۱۹۶۳ز کال کې ملګرو ملتونو ته د افغان پلاوي مشاور وزیر. له ۱۹۶۵ تر ۱۹۶۷ز کال پورې د اطلاعاتو او کلتور وزیر. له ۱۹۶۷ تر ۱۹۶۸ز کال پورې د باندنیو چارو په وزارت کې سکرترجنرال. له ۱۹۶۸ تر ۱۹۷۰ز کال پورې د انقرې سفیر. په ۱۹۷۰ز کال کې د پیکینګ سفیر. په ۱۹۷۳ز کال کې متقاعد. شاعر، درامه لیکونکی او د افغانستان د تأریخ او ادبیاتو په اړوند د یو شمـېـر کتابونو مؤلف.

## ډاکټر نظر محـمد سکندر

د بارکزیو له کورنۍ څخه او د بریګیډیر فیض مـحـمد خان ورور. د استقلال له لیسې څخه له فارغـېـدلو وروسته فرانسې ته لاړ او هلته ئـې د طب په ډګر کې تحصیل وکړ. افغانستان ته له راستنـېـدلو وروسته ئـې په بـېـلابـېـلو روغتونونو کې

---

[2] -Schweizer Kreditantstalt

[3] -Norddeutsche

[4] - د ژباړونکي یادونه : د افغانستان نامتو ادیب، لیکوال او درانده شاعر جناب عبدالباري جهاني صاحب د ۲۰۲۶ز کال د جولای د میاشتې په لسمې نېټې دغه اصلاحیه پیام راولیږه : دغه راز په یوه نیژدې مخکنی ګڼه کې عثمان صدیقي لیکل سوی وو چې هغه مشهور لیکوال او مترجم صدیقي نه بلکه عثمان « صدقي» دی. تاته بریاوي او اوږد او له ښې روغتیا سره ملګرى ژوند غواړم.

[5] -New Guinea



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

کار وکړ. د کابل پوهنتون د ساینس د پوهنځي مدرس او وروسته استاد. د داخله طب د دیپارتمنت مشر. له ۱۹۷۳ تر ۱۹۷۶ز کال پورې د روغتیا وزیر. په ۱۹۸۵ز کال کې په کابل کې وفات سو.

## محمد یونس سکندر زاده

د خلم د سکندر خان زوی او د امان الله حسرت ورور په ۱۹۲۴ز کال کې په کابل کې زېږېدلی دئ. خپل تحصیلات ئې د کابل پوهنتون د ادبیاتو په پوهنځي کې کړي دي. د کولمبیا له پوهنتون څخه ئې خپله ماستري په ښوونې او روزنې کې تر لاسه کړې ده. د غازي د لیسې ښوونکی او مدیر. د معارف په وزارت کې کنترولر. د کابل پوهنتون د رئیس سکرتر. د معارف د وزارت د کلتوري اړیکو د مدیریت مدیر. مورنۍ ژبه ئې دري ده.

## امان الله سیلاب

د نصرالله زوی، په ۱۹۳۳ز کال کې په ننګرهار کې زېږېدلی دئ. خپلې لومړنۍ زده کړې ئې د ننګرهار په کامې کې تر لاسه کړې . تر شپږم ټولګي پورې ئې د قضاتو په مدرسې کې درس ولوست او په ۱۹۵۷ز کال کې له عربي دارالعلومو څخه فارغ سو. د الفلاح غړی. په ۱۹۶۰ز کال کې په راډیو کابل کې مرستیال مدیر. د قبائیلو د وزارت د تبلیغاتو مدیر. شاعر. په ۱۹۷۹ز کال کې ونیول سو او ووژل سو.

## عبدالمجید سراج

د امیر حبیب الله خان زوی او د ډاکټر ابراهیم مجید سراج پلار. تحصیلات ئې په فرانسې کې کړي دي. د حبیب الله کلکاني پر ضد یوې توطئې کې ښکېل وو چې دی او ورور ئې د ۱۹۲۹ز کال په دوبې کې اعدام سو.

## جنرال عبدالواحد سراج [6]

د امیر حبیب الله او د نجم الحرم بنفشه زوی دئ چې په ۱۹۱۷ز کال کې په کابل کې زېږېدلی دئ. د حبیبیې او امانې ښوونځیو ته تللی دئ او په ۱۹۳۰ز کال کې د استقلال له لیسې څخه فارغ سوی دئ. په ۱۹۳۴ز کال کې د لومړي بریدمن په رتبې له حربي پوهنتون څخه فارغ سو. عملي روزنه ئې بشپړه کړه او په ۱۹۳۵ز کال کې ئې د تورن رتبې ته ارتقاء وکړه. په حربي پوهنتون کې د اداري چارو افسر. په ۱۹۳۶ز کال کې د دفاع په وزارت کې د تشکیلاتو د ریاست رئیس. په ۱۹۳۹ز کال کې ئې د جګړن رتبې ته ارتقاء وکړه. په۱۹۳۹ز کال کې د پوځي افسرانو لپاره د طبي خدماتو او د وترنرۍ د ښوونځي اداري اسیستانت. په ۱۹۴۲ز کال کې د روغتیا او د وترنرۍ د ریاست رئیس. په ۱۹۴۶ز کال کې ئې د ډګرمن رتبې ته ارتقاء وکړه؛ په ۱۹۵۲ز کال کې ډګروال سو. په ۱۹۵۴ز کال کې د تحرکاتو پر مهال د پوځي واحدونو بولندوی. په ۱۹۵۸ز کال کې ئې د پوځي روزنې د تازه کولو کورس [7] کې ګډون وکړ. په ۱۹۵۹ز کال کې برید جنرال سو. د دفاع د وزارت د پرسونل د ریاست رئیس او په ۱۹۶۳ز کال کې ئې د تورن جنرالۍ رتبې ته ارتقاء وکړه. په ۱۹۶۵ز کال کې د تخنیکي خدماتو او د پوځي فابریکو د ریاست رئیس. په ۱۹۷۱ز کال کې د مالیې او بودیجې رئیس.

---

6 - SIRAJ, GEN. ABDUL WAHID : سره له دې چې ددې نوم مخ ته ئې عبدالوحید سراج لیکلي دي خو زه ژباړونکی ئې د عبدالواحد په ډول لولم. والله اعلم.

7 -Military Refresh Course


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

په ۱۹۷۲ز کال کې د حربي پوهنتون بولندوی. په ۱۹۷۳ز کال کې مقاعد سو. په ۱۹۸۳ز کال کې افغانستان ئـې پرېـښود او ډيلي ته لاړ او له هغه ځايه د امريکا متحده ايالاتو ته لاړ. د نجيب الله تورواياناو او د ډاکټر انس له خور نجيبي سره ئـې وادۀ کړی دئ.

## جنرال اسدالله سراج

د امير حبيب الله خان او د اعليحضرت نادر خان د خور علیا جناب زوی او د امير امان الله خان ناسکه ورور او د پخواني پادشاه محمـد ظاهر شاه د ترۀ زوی په ۱۹۱۰ز کال کې زېږېدلی دئ. خپلې زده کړې ئـې د حبيـبيې او د استقلال په ليسو کې کړې دي. حبيب الله کلکاني په ۱۹۲۹ز کال کې زنداني کړ. په ۱۹۲۹ز کال کې د «سر اوس»[8] د جنگ «دفاع – ژ» د وزير ياور. د ۱۹۳۰ز کال کې د ډسمبر په مياشت کې د خپلو نورو دندو تر څنگ د جنگ د وزارت د دوهم سکرتر په توگه چې له عمومي سررشته دار[9] «د ټولي اردو د لوژيستيک د رئـيس له رتبې – ژ» سره برابره رتبه وه مقرر سو. په ۱۹۳۱ز کال کې د کابل د پليو ځواکونو د افسرانو د ښوونځي د شرايطو واجد وگڼل سو. په ۱۹۳۳ز کال کې ئـې د فرقه مشر رتبې ته ئـې ارتقا وکړه او د گارد د فرقې د عمومي بولندوی[10] په توگه وټاکل سو. د گارد د فرقې د عمومي بولندوی په توگه، دۀ د ارگ او د سلطنتي کورنۍ د خصوصي گارد په گډون د سلطنتي گارډ بولنه پر غاړه درلوده. په ۱۹۳۹ز کال کې د جنگ د وزارت د استخباراتو رئـيس او د تحقيق د رياست رئـيس. د دوهمې نړۍ والي جگړې په لړ کې د ټول وسله وال ځواک عمومي سرمفتش. له ۱۹۴۶ تر ۱۹۴۸ز کال پورې ستر درستيز او د دفاع سرپرست وزير. په ۱۹۴۸ز کال کې د کورنيو چارو وزير او مرستيال صدراعظم. په ۱۹۵۱ز کال کې د تورکيې سفير. په ۱۹۶۱ز کال کې د فرانسې سفير. په ۱۹۶۴ز کال کې د ايران سفير. له ۱۹۸۱ز کال را په دېخوا د امريکا په متحده ايالاتو کې ژوند کوي.

**عصمت الله سراج** : وگورئ : عصمت الله عنايت سراج

**حميدالله عنايت سراج** : وگورئ : حميدالله عنايت سراج

**محبوب الله سراج**

## نور بيا

**محبوب الله سراج**

د حيات الله زوی او د امير حبيب الله خان لمسی په ۱۹۲۷ز کال کې...

قدرمنو لوستونکو! د ښاغلي رحمت آريا د آرشيف: لينک

[8] -Sar-Os
[9] -Quartermaster General
[10] -General Officer Commanding


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينگه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پاز والي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په خير و لولـئ